# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**25سرطان _سال 1402**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان صفحه

د ایران څخه له دوه زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول ------------------------------------------------1

سمنګان کې لسګونو کورنیو ته د لمریزې برېښنا وسایل ورکړل شول ----------------------------------------------1

رسانه‌های ترکیه: ۱۳۸ مهاجر غیرقانونی افغان به افغانستان بازگردانده شدند-------------------------------------2

کشف جسد 13 مهاجر غیرقانونی در سواحل تونس----------------------------------------------------------------4

د بریتانیا پارلمان د دفاعي کمېټې مشر: بریتانیا دې کابل کې خپل سفارت بېرته پرانیزي ------------------------------5

د ۱۸۱قلمه پرزه جاتو د دواطلبی خبرتیا --------------------------------------------------------------------------9

کرېکټ: بنګله دېش له افغانستان د شل اوریزو لوبو لړۍ وګټله ----------------------------------------------------9

# متن کامل اخبار

## د ایران څخه له دوه زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

د وزارت وېب پاڼه



د ایران څخه دوه زره او ۷۶ تنه افغان مهاجر د چنگابش په ۲۴ مه هېواد ته راستانه شول.
د هرات ولایت د اسلام قلعه د سرحدي آمر په خبره د یادو راستنېدونکو له ډلې۳۴۷ تنه د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور وپېژندل شول.

## سمنګان کې لسګونو کورنیو ته د لمریزې برېښنا وسایل ورکړل شول

د وزارت وېب پاڼه




د آغا خان دفتر له لوري د سمنګان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکاری۸۴ کورنیو سره د چنګاښ په ۲۴مه د لمریزي برېښنا د وسایلو مرستې وشوې.

يادې کورنۍ، چې څه موده وړاندې د سمنګان ولايت د مهاجرينو چارو رياست له لورې سروې د دغه ولايت په روی دوآب او خرم سارباغ ولسواليو کې سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې هرې کورنۍ ته دوه دوه ۲۰۰ واټه د لمريزې برېښنا تختې، دوه ۲۰۰ امپيره بطرۍ سره د وسايلو ووېشل شوې.

## رسانه‌های ترکیه: ۱۳۸ مهاجر غیرقانونی افغان به افغانستان بازگردانده شدند

اینترنشنال



**رسانه‌های ترکیه گزارش دادند که ۱۳۸ مهاجر «غیرقانونی» افغان که در شهر کوجالی و مناطق اطراف آن در ترکیه دستگیر شده بودند، به افغانستان بازگردانده شدند.**

**به گزارش این رسانه‌ها این پناهجویان روز یکشنبه (۲۵ سرطان) از ترکیه اخراج شدند.**

**تیم‌های مرتبط به اداره مهاجرت شهر کوجالی و مناطق اطراف آن، در نتیجه یک عملیات، مهاجران «غیرقانونی» افغان را در مناطق مختلف شناسایی و به مرکز منتقل کردند.**

**این مهاجران از طریق میدان هوایی «چنگیز توپل» از طریق خطوط هوایی افغانستان به این کشور بازگردانده شدند.**

**از ابتدای سال جاری تاکنون نزدیک به سه‌هزار مهاجر افغان اخراج شده‌اند.**

**بر اساس آمار رسمی، بیش از سه‌صد هزار مهاجر افغان در ترکیه زندگی می‌کنند.**

**در ۲۳ سرطان رجب طیب اردوغان، رئیس‌جمهور ترکیه، در یک سخنرانی از تغییرات مشهود در سیاست مهاجرتی‌اش به‌ویژه در رابطه به مهاجران «غیرقانونی» در آینده نزدیک خبر داد.**

**او گفت که نیروهای امنیتی کشورش در این مورد اقدامات خود را شدت بخشیده‌اند.**

**حکومت ترکیه اعلام کرده است که شناسایی و اخراج مهاجران غیرقانونی را در تمام شهرها ادامه می‌دهد.**

**ترکیه یکی از مسیرهای اصلی مهاجران افغان برای رسیدن به اروپا است. بیشتر این مهاجران از ایران وارد ترکیه می‌شوند.**

**وزارت داخله ترکیه گفته که از سال ۲۰۱۶ تا پایان ۲۰۲۲ از ورود غیرقانونی دو میلیون و ۷۱۲ هزار و ۱۴۸ شهروند خارجی به ترکیه جلوگیری کرده است.**

**ترکیه در سال گذشته میلادی، ۵۷ هزار و ۱۷۴ «مهاجر غیرقانونی افغان» را اخراج کرد.**

**افزون بر آن از ابتدای سال جاری تاکنون حدود ۲۶۸۸ مهاجر «غیرقانونی» افغان از ترکیه اخراج و به افغانستان بازگردانده شده‌اند.**

## کشف جسد 13 مهاجر غیرقانونی در سواحل تونس

رادیو صدای ترکیه

**بر اساس اطلاعیه گارد ملی تونس، تفنگداران دریایی اجساد 13 مهاجر را در سواحل شهر صفاکس از دریا خارج کردند و 25 مهاجر را نجات دادند**



**جسد 13 مهاجر غیرقانونی در سواحل تونس پیدا شد.**

**بر اساس اطلاعیه گارد ملی تونس، تفنگداران دریایی اجساد 13 مهاجر را در سواحل شهر صفاکس از دریا خارج کردند و 25 مهاجر را نجات دادند.**

**در این اطلاعیه آمده است مهاجران غیرقانونی از شهروندان کشورهای جنوب صحرای آفریقا هستند. یک شبکه قاچاق انسان که به فرار مهاجران کمک می‌کرد نیز منهدم شده است.**

**در سنگال بر اثر واژگونی قایق حامل مهاجران غیرقانونی که در راه اسپانیا بودند، 8 نفر جان خود را از دست دادند.**

**در اطلاعیه وزارت کشور آمده است این قایق که از ساحل روستای کافونتین به سمت جزایر قناری اسپانیا در حرکت بود در سواحل سنت لوئیس واژگون شده است.**

**آنتوان فلیکس دیومه وزیر کشور که به محل حادثه رفته بود گزارش داد که 60 نفر در قایق بودند و اجساد 8 نفر پیدا شد.**

**سازمان غیردولتی اسپانیایی اعلام کرد که 3 قایق حامل 60، 65 و 200 مهاجر غیرقانونی که در روزهای 23 و 27 ژوئن از کافونتین به راه افتاده بودند، در اقیانوس اطلس گم شدند.**

**از سوی دیگر، وزارت امور خارجه سنگال این حادثه را تکذیب کرد و اعلام کرد که 260 مهاجر غیرقانونی در 28 ژوئن تا 9 جولای در آب‌های سرزمینی مراکش نجات یافته‌اند.**

**مشخص نیست که آیا 260 مهاجر غیرقانونی که در اطلاعیه وزارتخانه ذکر شده مهاجرانی هستند که سازمان غیردولتی اسپانیا از ناپدید شدن آنها خبر داده است یا خیر.**

## د بریتانیا پارلمان د دفاعي کمېټي مشر: بریتانیا دې کابل کې خپل سفارت بېرته پرانیزي

بی بی سی پښتو



د عکس سرچینه، Getty Images

د بریتانیا پارلمان د دفاعي کمېټې مشر ټوبیاس ایلووډ وايي، بریتانیا باید په کابل کې خپل سفارت بېرته پرانیزي او له طالبانو سره خبرې پیل کړي.

ښاغلي ایلووډ چې تازه د افغانستان له سفره راستون شوی، ټېلېګراف ورځپاڼې ته مقاله کې لیکلي چې هغه جدي پرمختګ کتلی او باوري دی چې اوس د دې وخت را رسېدلی چې له طالبانو سره خبرې پیل شي که څه هم دا به ډېرو ته ښه نه ښکاري.

ټوبیاس اېلووډ د بریتانیا د واکمن محافظه کار ګوند سیاستوال دی. دا ګامونه د دې لپاره حیاتي دي چې افغانستان بیا د بې ثباتۍ، ترهګرۍ او ډلهییزې کډوالۍ بل پړاو ته د ننه نشي.

د بریتانیا په ګډون یوه هېواد هم لا د طالبانو حکومت په رسمیت نه دی پېژندلی.

خو د روسیې، چین او هند په ګډون د سیمې او نړۍ ځینو هېوادونو وار له مخه په کابل کې خپل سفارتونه پرانیستي دي.



د عکس سرچينه، Getty Images

ټوبیاس اېلووډ د امنیت ښه کېدل، د خلکو ازاد تګ راتګ، د پخواني حکومت پر مهال د پراخ اداري فساد ورکېدل او د نشهيي توکو د تور کاروبار پیکه کېدل د افغانستان مهم بدلونونه یاد کړي.

دغه بریتانوي سیاستوال د کجکي برېښنا بند په څېر د ځینو پروژو فعالېدل او د کانونو استخراج هم په افغانستان کې د پرمختګ نښې بللې دي.

ښاغلي اېلووډ چې ورور یې په ۲۰۰۲ کال کې د اسلامپالو له خوا وژل شوی، وايي طالبان یې نه خوښېږي خو ټینګار کوي چې اوس د دې وخت را رسېدلی چې له افغان حکومت سره کار وشي ترڅو دغه هېواد د "بې ثباتۍ، ترهګرۍ او ډله ییزې کډوالۍ" بل پړاو ته دننه نشي.

هغه چې په د پوځ په ریزرف کې ډګروال هم دی په دې مقاله کې لیکي چې که لویدیځ په افغانستان کې د وضعیت ښه کېده غواړي نو یوې عملي ستراتیژۍ ته اړتیا لري.

دی زیاتوي، چې تر هر څه مخکې دې هلته د بریتانیا سفارت پرانیستل شي.



د عکس سرچینه، Getty Images

د ښاغلي اېلووډ په اند په افغانستان کې د بریتانیا سفارت د امنیتي دلایلو پر ځای د سیاسي ملحوظاتو په خاطر تړلی او دا بایکاټ هم چې د طالبانو د ځېونکو قوانینو او د ښځو او نجونو پر زدکړو او کار د بندیز په غبرګون کې دی، د درک وړ ګڼي.

خو سپارښتنه کوي چې د ښځو پر کار د بندیز په څېر د طالبانو ځینې محدودیتونه پایېدونکي نه دي او له بلې خوا دا بندیزونه که څه هم له خپلو اېډیالونو سره سم نه ګڼي خو د دغه جګړه ځپلي هېواد شرایطو ته په کتو یې د درک وړ ګڼي.

له هماغه راهیسي له افغانستان سره ډیپلوماتیکې اړیکې پرې شوې، د لوېدیځ عمده مرستې هم بندې دي او په بهر کې د افغانستان میلیاردونه ډالره شتمنۍ هم کنګل شوې.




د عکس سرچینه، Getty Images

**طالبانو په دې موده کې په وار وار ویلي، چې دوی له نړۍ سره ښه اړیکې غواړي او حکومت دې یې په رسمیت وپېژندل شي.**

**د برېتانیا پارلمان دفاعي کمېټې له دې وړاندې له افغانستانه د "ناوړیني وتلو" پلټنې غوښتنه کړې وه.**

**د دغې کمېټې مشر او پخوانی پوځي توبیاس اېلوود ویلي وو دا د برېتانیا په پوځي تاریخ کې یو تور ځېرکی دی.**

**بریتانیا په افغانستان کې د خپلو دوو لسیزو پوځي حضور پرمهال نژدې ۴۰ میلیارد ډالر ولګول.**

## د ۱۸۱ قلمه پرزه جاتو د دواطلبی خبرتیا

د وزارت وېب پاڼه




د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت ټولو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې د ۱٤۰۲کال لپاره د وزارت د فعاله وسایطو ۱۸۱ قلمه پرزه جاتو د داوطلبی په پروسه کې ګډون وکړي او د شرط نامې کاپي د تدارکاتو امریت څخه د فلش له لارې ترلاسه کړي. خپل آفرونه دې د شرطپاڼې شرایطو د تدارکاتو قانون د کړنلارې سره سم په سرټړلي بڼه وړاندې کړي او خپل آفرونو دې د خبرتیا د خپرېدو له نېټې څخه ۱۷/ ۵ / ۱۴۰۲ سې شنبه مخکې له غرمې د سهار ۱۰ بجو پورې د وزارت د تدارکاتو امریت ته وسپاري. ناوخته رارسېدلي او انټیر نټي آفرونه د منلو وړ نه دي. د آفر تضمین د بانکي ګرنټۍ په بڼه دی، چې ۵۵۰۰۰ افغانی کېږي اود آفرونو پرانیسغونده د ۱۷/ ۵ / ۱۴۰۲ کال سې شنبه مخکې له غرمې په ۱۰ بجو د مهاجرینو وزارت د ناستو په سالون کې ترسره کېږي.

## کرېکټ: بنګله دېش له افغانستان د شل اوریزو لوبو لړۍ وګټله

بی بی سی




**بنګله دېش له افغانستان د شل اوریزو سیالیو دویمه لوبه په شپږو وېکټو وګټله او له دې سره د یې د شل اوریزو لوبو لړۍ په خپله نامه کړه.**

**د ننني لوبې پچه بنګله دېش وګټله او لومړی یې افغانستان ته یې د منډو جوړولو بلنه وکړه. لوبه د باران له کبله ۱۷ اورونو ته راټیټه شوه.**

**افغانستان بنګله دېش ته د ۱۱۹ منډو هدف وټاکه چې بنګالی لوبډلې د څلورو لوبغاړو په سوځېدو سره په وروستي اور کې بشپړ کړ.**

**د تېرې لوبې په څېر د افغانستان د پیل لوبغاړي ژر وسوځېدل رحمان الله ګوربز ۸ او حضرت الله ځاځي ۴ منډې وکړې. وروسته ابراهیم ځدراڼ یو څه مقابله وکړه او په ۲۷ توپونو یې ۲۲ منډې جوړې کړې.**

**عظمت الله عمرزي تر ټولو ډېرې (۲۵) منډې وکړې. د ده تر څنګ کریم جنت ۲۰ او محمد نبي ۱۶ منډې وکړې.**

**په توپ اچوونه کې د افغانستان لپاره مجیب ځدراڼ او عظمت الله عمرزي هر یوه دوې دوې وېکټې واخیستې.**

**د بنګله دېش لپاره لېټن داس ۳۵، افیف حسین ۲۴، توحید هارډای ۱۹ او شکیب الحسن ۱۸ منډې وکړې.**

**د افغانستان لپاره رحمان الله ګوربز، حضرت الله ځاځی، ابراهیم ځدراڼ، نجیب الله ځدراڼ، محمد نبي، کریم جنت، مجیب ځدراڼ، عظمت الله عمرزی، فضل الحق فاروقي او وفادار مومند د راشد خان په مشرۍ لوبېږي.**

**د افغانستان او بنګله دېش ترمنځ د کرېکټ شل اوریزو سیالیو دا لوبلړۍ د بنګله دېش په شمال ختیځ سېلهېټ ښار کې کېږي.**

**د دې لړۍ لومړۍ لوبه کوربه لوبډلې په ۲ ویکټو ګټلې وه.**

**تېره لوبه کې افغانستان په ټاکلو شلو اورونو کې د اوو لوبغاړو په سوځېدو او د محمد نبي د نیمه سلیزې په مټ ۱۵۴ منډې وکړې شوې.**

**بنګله دېش دغه هدف ته د خپلې پانۍ د شلم اور په پنځم توپ داسې حال کې ورسېد چې ۸ لوبغاړي يې سوځېدلي وو.**

**د افغانستان له اړخه که څه هم کریم جنت په وروستي اور کې درې بنګله دیشي لوبغاړي سر په سر وسوځول او سيالي يې جالبه کړه خو دا چې منډې کمې پاتې وې، دفاع يې ونه شوه.**

**تېره لوبه کې د بنګله دېش لپاره 'توحید هریدوی" تر ټولو ډېرې (۴۷) منډې وکړې او تر پایه ونه سوځېد.**



د عکس سرچينه، Getty Images

**لومړۍ شل اوريزه لوبه کې د راشد خان په لوبډلمشرۍ د افغانستان له اړخه رحمان الله ګربز، حضرت الله ځاځی، ابراهيم ځدراڼ، محمد نبي، نجيب الله ځدراڼ، کریم جنت، مجیب الرحمن، فرید احمد، عظمت الله عمرزی او فضل حق فاروقي ولوبېدل.**

**وبه کتل شي چې افغانستان دويمې لوبې لپاره لوبډله کې بدلون راولي، که له هماغو لوبغاړو سره لوبېږي.**

**د یادونې ده چې افغان کرېکټ ملي لوبډلې بنګله دېش ته د خپل دغه سفر په لړ کې له کوربه لوبډلې د درېو يو ورځنيو لوبو لړۍ دوه یو وګټله.**

**خو تر هغې مخکې یې په یوازنۍ ټېسټ لوبه کې ماتې منلې وه.**

ه